سلطان جان کلیوا ل

۲۰۲۱/۱۱/۱۱

# مســــؤل

که زه ډیر یم، لږ خو ته هم ملامت یی
دا ځلوېښت کاله، اخته په شرارت یی

خلک مخ ته ځی، ته شاته کشوی مونږ
ولی دومره لوی دښمن د دي ملت یی؟

زړه دی کرکې نه ډک کړی سرله بوسو
جوړد قهر، له غضب او له دهشت یي

یو بادارنه شوی آزاد، بل ته ګونډه شوی
نازل شوی په خپل کور، لکه آفت یی

بی له تانه هم، ژوندی د اسلام دین دی
فکر مکړه چی حافظ، د ټول اُمت یی

په خپل لاس نړی، د ځان دښمنه نکړی
ته هم غړی د لوی کور، دانسانیت یی

وطنوال دی لکه ته، ټول انسانان دی
په عزت د نورو، خپله با عزت یی

کلیوال دی نړیوالو ته په سوال دي
اوس چی مشرییی، مسؤل یي دحالت یی



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com